شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۴ ګڼه / سه شنبه د محرم‌الحرام ۱۴مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۹مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جون ۳۰مه ۲۰۲۶ میلادي

اسلامي امارت:

پر افغان خاوره د پاکستاني رژیم بریدونه بې ځوابه نه پاتې کېږي

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد ویلي، چې د پاکستان پوځي رژیم ورمه شـپه یو ځل بیا د پکتیکا په ګیان، د پکتیا پــه ځمکنیو او د کونړ په منورې ولســوالیو کې د ملکي وګړو پر کورونو هوایي بریدونــه کړي، چې له امله یې لسګونه تنه شـــهیدان او ټپیان شوي دي. ښاغلي مجاهد د پاکستان د پوځي رژیم دغه یرغل غندلی او هغه یې «جنایت او وحشت» بللی دی. ده په تازه څرګندونو کې ویلي، چې د پاکستان بریدونه به بې ځوابه پاتې نه شي، ځکه له دې وړاندې هم د پاکســتاني پوځي رژیم د بریدونو غچ اخیستل شوی او د پاکستان په خاوره کې د ځینو شریرو ډلو مرکزونه په نښه شوي دي. ښاغلي مجاهد زیاته کړې، چې د افغانســتان خلک د خپلې خاورې د دفاع په برخه کې ډېر پیاوړي دي او که د هوا له لارې وي او که پر ځمکه، د دغه برید غچ به اخلــي او د دې لپاره بدیلې لارې لري. ده زیاته کړې، چې اســـلامي امارت د جګړې پلوی نه دی او د ستونزو د حل لپاره پر دیپلوماســـی بــاور لري، خو د افغانســتان د خاورې، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشــپړتیا دفاع به په هر ډول شرایطو کې کوي. ده خبرداری ورکړی، چې که څوک افغانســتان تــه په کمه سترګه وګوري، پښېمانه به شي. د ده په وینا، دا بې منطقه استدلال دی، چې په کراچۍ، کوټه او پېښور کې هره چاودنه له افغانستان سره وتړل شي.

فطرت:

د پاکستان د پوځي رژیم په تازه بمباریو کې لسګونه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي

د اســلامي امارت مرســتیال ویاند ملا حمدالله فطـرت ویلي، چې د پاکســتان پوځي رژیم د ورمې شپې په هوايي بمباریو کې د پکتیا، پکتیکا او کونړ ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې ۳۶ ولسي وګړي شــهیدان او ۱۶۳ نور ټپیان شوي دي.

د فطرت پــه وینــا، د پکتیا ولایت د ځمکنیــو ولســوالۍ د مندوخېلو پــه کلي کې پــر یوه ملکــي کور د پاکســتاني رژیم د جېــټ الوتکو د بمبارۍ له امله یو ســپین‌ږیری او یو ماشوم شهیدان شــوي او د کور نور غړي یې ټپیان شــوي دي. نوموړي زیاته کړې، وروسته چې د ژغورنې لپاره کلیوال راټول شــول، پر هغوی دویم ځل هم بمباري وشوه، چې له امله یې ۲۸ تنه کلیوال... ۳مخ

تهران له کابل سره په درېیو کلونو کې د ۱۰ میلیاردو ډالرو سوداګرۍ هدف ټاکلی

په داسې حال کې، چې د پاکستاني رژیم پوځ پر افغــان خاوره بمباریو ته دوام ورکــوي، ایــران ویلي: له افغانســتان سره ســوداګریزه راکړه ورکړه ۱۰ میلیارډو ډالرو ته رسوي.

د مهــر خبــري اژانــس د راپور له مخــې، د ایــران د ســوداګریزو چارو یــوه چارواکي ویلــي: ایران او افغانســتان پلان لــري، چې په راتلونکو درېیــو کلونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ کلنۍ ســوداګري ۱۰ میلیــارډو ډالــرو ته ورســوي.

پــه کابل کــې د ایران ســوداګریز استازي، حسین روســتایي ویلي، چې د تېــر لمریز کال په ترڅ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچــه ۲.۷ میلیــارډو ډالــرو تــه رسېدلې ده.

د ده پــه وینا، افغانســتان دا مهال د ایران پنځم لوی ســوداګریز شریک هېواد دی. روستایي زیاته کړې: دواړه هېوادونه غــواړي د صنعت او کانونو په برخو کې د همکارۍ د پراخولو له لارې په راتلونکو... ۳مخ

پاکستاني رژیم ته د جماعت الاحرار خبرداری؛

موږ همدلته یو، د پاکستان په ښارونو کې راسره مقابله وکړئ

وروســته له هغې چې پاکســتاني رژیــم د تي تي پي د وســله‌والو په پلمه پر افغانســتان هوايي بریدونه وکړل، د پاکســتاني طالبانو اړوند جماعة الأحــرار د پاکســتان هغه ادعــاوې رد کــړې، چــې ګواکې د پاکســتان اجیــر پوځ پــه خپلو وروستیو هوايي بریدونو... ۳مخ

په کابل کې د صنعت او معدن اوونۍ پنځم کورنۍ او نړیوال ندارتون جوړېږي

د افغانســتان د صنایعــو او کانونو خونــې مســئولینو په کابــل کې د صنعــت او معدن اوونــۍ د پنځم کورنــي او نړیــوال اووه ورځنــي ندارتون د جوړولو خبر ورکړی.

د افغانســتان د صنایعــو او کانونو خونــې مرســتیال محمــد رفیــع عظیمي، پرون په یوه خبري کنفرانس کې د یــاد ندارتون په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل، چې د «صنعت استــفادې تېنګار وکړ او ویې ویل، چې د کورنیو او نړیوالو ندارتونونو جــوړول؛ د افغانســتان تولیداتو او محصولاتــو ته د بــازار موندنې په لاره کې مهم رول لري.

دوی لــه ټولــو کورنیــو او بهرنیــو صنعت‌کارانــو او پانګــه والو څخه وغوښــتل، چــې د افغانســتان د صنعت په برخــه کې پانګونه وکړي او په وینا یې افغانستان... ۳مخ

سرمقاله

د ترهګر پوځي رژیم تکراري جنایتونه!

پاکســتاني پوځــي رژیــم یــو ځــل بیــا د افغانســتان پــر ملکــي ســیمو هوایــي بریدونــه ترســره کــړل او د ښــځو، ماشــومانو او نــورو بې‌ګناه ولســي وګــړو وینــې یــې تویــې کــړې. د پکتیــکا د ګیــان، د پکتیــا د ځمکنیــو او د کونــړ مــروره ولســوالۍ هغــه ســیمې دي چــې د دغــو وروســتیو بریدونــو هــدف وګرځېــدې. د راپوروننــو لــه مخــې، پــه دغــو بریدونــو کــې زمــوږ ۳۶ تنــه هېــوادوال شــهیدان او ۱۶۳ نــور ټپیــان شــوي دي. امنیتــي ځواکونــو د پېښــې لــه رامنځتــه کېــدو وروســته ټپیــان پــر وخــت روغتونونــو تــه انتقــال کــړي او د دوی د درملنــې لپــاره یــې لازمــې اســانتیاوې برابــرې کــړې دي.

دغــو وحشــیانه بریدونــو یــو ځــل بیــا دا حقیقــت ثرګنــد کــړ، چــې پاکســتانی پوځــي رژیــم د خپلــو کورنیــو ناکامیــو او ســتونزو د پټولــو لپــاره د افغانســتان خــاوره پــه نښــه کــوي. د ملکــي خلکــو پــر کورونــو او مېنــو بریدونــه نــه یــوازې د نړیوالــو قوانینــو او بشــري اصولــو ښــکاره نقــض دی، بلکــې یــو څرګنــد جنایــت او د بشــریت ضــد عمــل هــم ګڼــل کېــږي.

د اطلاعاتــو او فرهنــګ وزارت د خپرونــو چــارو مرســتیال مولــوي حیات‌اللــه مهاجــر فراهــي ویلــي: اســلامي امــارت بــه د پاکســتان د وروســتیو هوایــي بریدونــو پــه اړه پــه مناســب وخــت او د ملــي ګټــو پــه چــوکاټ کــې لازم اقدامــات ترســره کــړي. نومــوړي ټینــګار کــړی چــې د نظــام پرېکــړې د احساســاتو پــر بنســټ نــه، بلکــې د دقیقــو ارزونــو او ســنجول شــویو تدابیــرو لــه مخــې کېــږي.

پاکســتانی پوځــي رژیــم هڅــه کــوي چــې د افغانســتان د امنیتــي او سیاســي ثبــات پــر وړانــدې خنډونــه رامنځتــه کــړي او د اســلامي امــارت لاســته‌راوړنې تــر پوښــتنې لانــدې راولــي، خو تاریخــي تجربو ښــودلې چــې د زور، تېــري او ظلــم لــه لارې هېــڅ ملــت نــه شــي ماتېدلــی. افغــان ولــس تــل د تجاوزونو پر وړانــدې د صبــر، اســتقامت او مېړانــې بېلګــې وړانــدې کــړې دي.

نــن چــې د افغانســتان پــر بې‌ګنــاه ماشــومانو، ښــځو او ولســي خلکــو بمونــه اوورول کېــږي، د نــړۍ هغــه بنســټونه او کــړۍ چېرتــه دي چــې د بشــري حقونو د دفــاع ادعــاوې یــې کولــې؟ ولــې چوپــه خولــه ناســت دي؟ آیــا دا هغــه ماشــومان نــه دي، چــې پــرون مــو پــه نړیوالــو ســټېجونو یــادول... ۳مــخ

برگزاری مشاعره میله گل زرد در کاپیسا

مشـــاعره میله عنعنه‌یی گل زرد، به ابتکار ریاست اطلاعات و فرهنگ کاپیســـا، در ایـــن ولایـــت برگزار شد.

در آغـــاز ایـــن جشـــنواره، مولوی کریم‌الله وثیـــق رئیس اطلاعات و فرهنگ کاپیســـا گفت که میله گل زرد، از جمله جشـــن‌های عنعنه‌یی و دیرینه این ولایت اســـت که همه ساله با حضور گسترده... ص۳

د ماهیپر برېښنا بند د لومړي توربین د تولید ظرفیت لوړېږي

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیــوي رئیس، مــلا عبدالحق همــکار د ماهیپر برېښــنا د تولیــد بند د لومړي توربیــن (جنراتور) د رغونې پروژې د قراردادي شــرکت له رئیس، ګنای کوســه، سره وکتل او د یــادې پــروژې د پرمختــګ، تخنیکي چارو او اړوندو موضوعاتو په اړه یې هر اړخیزې خبرې وکړې.

د قــراردادي شــرکت رئیس ویلي: چمتو دي، چې د ماهیپر برېښنا بند د لومړي توربین د تولید ظرفیت له ۲۲ مېګاواټو څخه ۲۶ مېګاواټو ته لوړ کړي.

دغه راز ښاغلي همکار ویلي،... ۳مخ

بار دیگر نقاب از چهره بزدلانه و متجاوزانه نظامیان پاکستان برداشته شد ۲

پنجابي پوځ یو ځل بیا افغانان شهیدان کړل! ۲

میدان وردګ؛ جغتو ولسوالۍ کې ۳۰ بستریز روغتون جوړېږي

د میــدان وردګــو ولا یــت د عامې روغتیا ریاست مسئولینو ویلي چې د دغــه ولایت په جغتو ولســوالۍ کې د ۴۹ میلیونو افغانیو په لګښت د ۳۰ بســتریز روغتــون د جوړېدو چارې پیل شوې.

په یــاده موخه جوړه شــوې غونډه کــې د عامې روغتیــا وزیر مولوي نــور جلال جلالي ویلــي چې یاد روغتــون د هغــو ۳۱۸ روغتیایــي مرکزونــو له ډلې څخــه دی چې د عالیقدر امیرالمؤمنین... ۳مخ

د کور او ښار جوړولو وزارت د موټرو د څارنې عصري ټکنالوژي فعالوي

د کــور او ښــار جوړولــو وزارت د وســایطو د اغېزمــن مدیریــت، شــفافیت او خوندیتــوب د پیاوړتیا پــه موخــه، د وزارت د موټــرو د (جــي، پي، اېس) تعقیبي سیســتم د نصــب او فعالولــو قــرارداد لــه (تکتاز) خصوصي شــرکت سره، د دغه وزارت د مالــي او اداري معین مولوي محمد رباني ناصح له لوري لاسلیک شو.

د دغه قــرارداد له مخې به، د وزارت پر ټولــو اړوندو وســایطو د GPS عصــري تعقیبــي سیســتم نصب او فعــال شــي، ترڅــو د موټرو د ټګ راټګ مســیرونه او د استفادې څرنګوالی په دقیق او... ۳مخ

پنجابي پوځ یو ځل بیا افغانان شهیدان کړل!

لطف الله خیرخواه

په لاندې پنځو خبرو راسره غور وکړئ:

لومړۍ خبره دا ده چې:

دا مقطعي پېښې نه دي، پاکستان دوامداره جګړه پیل کړې ده چې په دغه تکتیک روانه ده. اسلامي امارت باید د طویل المدتې جګړې ستراتېژي جوړه کړي او د اوسنیو شرایطو مطابق د ځواب کوښښ وکړي او په ممکن راتلونکي نږدې مهال کې د غاښ ماتوونکي ځواب تیاری وکړي.

دوهمه خبره دا ده چې پوځي پرمختګ په ۵ کلونو کې نه کېږي. د پنځو کلونو همدومره ګوره وي چې یو شی وتوغېږي، کوهاټ او اسلام اباد وولي. ایران شپېته کلن حکومت کې د خپل مړ جمهور رئیس جسد نه شوای پیدا کولی. اخر ترکان ورغلل او جسد یې ورته پیدا کړ. که پوځي پرمختګ دومره اسانه وای، کرزي او اشرف غني باید پاکستان لوټې لوټې کړی وای. پرمختګونو ته لږ صبر وکړئ. اراده شته، عزم شته، فکر شته او وړتیا هم شته. دا هر څه به په خپلو سترګو ووینو، ان شاءالله!

درېیمه دا ده چې د پېښې وخت کې ولې ځینو ته پېغورونه وریاد شي؟ ولې یې خوله خلاصه کړې وي؟ ایا له کرزي او غني نه لرې واټن ویشتونکي اسلحه پاتې وه؟ ځکه داسې چغې وهي؟ څه شی پاتې و؟ له قرضونو، له غلو، شوکمارو، ډاکه مارو او جاسوسانو پرته څه راپاتې وو؟ دوه درې تغنې چورلکې وې، هغه یې هم خپلو بادارانو ته خوندي کړې او دلته چې څه ترې پاتې کېدې، هغه یې تخریب کړې. لږ خپل ګرېوان کې ولې فکر نه کوو؟

په زلزلو کې دوی د ګناهونو پېغورونه کوي، په سېلابونو کې دوی پېغورونه کوي، په طوفان کې دوی پېغورونه کوي، دوی خپل ګرېوان ته سر ټیټ کړی، چې دوی څومره په اوبو کې دي؟!!

څلورمه دا ده چې دا هر وار حسابېږي. دا پاتې کېږي نه. زموږ په خوږیانیو کې متل دی چې «چا سل کاله وروسته د خپل مړي پور اخیستی و، خلکو ویل چې بېړه یې وکړه.» د افغان دښمني دومره اسانه نه ده چې ځوک یې هضمه کړي. دا به ټول په خپلو سترګو ووینو؛ ان شاءالله!

پنځمه دا ده چې دا د عامو مسلمانانو د کورونو د بمباریو کوردینات هغه خلک ورکوي چې امریکا ته په جاسوسیو کې په دې کارونو اموخته وو. اوس پاکستان ته کوردینات ورکوي. زموږ په غوښتنه دا وي، چې دا خلک ټول وطن ته رسوا شي او د خاینانو په نامه محاکمې ته راکش کړای شي، که نه نو دلته شوروي او امریکایانو د جاسوسۍ داسې تخم کرلی چې ټول عمر به یې خېټه د بې ګناه انسانانو له وینو ډکه وي. ټول عمر به یې کار دا وي، چې یو بادار یې ورک شي، بل بادار به ځان ته لټوي. دې وطن ته باید هغه ټپوسان معلوم وي چې ټول عمر یې د پنجاب ضد شعارونه ورکول، اوس هلته پراته دي او د عامو افغانانو کورونه ورته د ټې ټي پي مرکزونه ښيي. دا خلک باید رسوا شي او د دوی په غیاب کې شرعي محکمه دایره شي او د محکمې حکم پرې صادر شي.

بار دیگر نقاب از چهره بزدلانه و متجاوزانه نظامیان پاکستان برداشته شد

سعید

جنگنده های نظامی پاکستان بار دیگر اقدام به حملات وحشیانه بر ولایت های پکتیکا، پکتیا و کنر کردند و از اثر این حملات هوایی، ده ها غیر نظامی که شامل زنان، کودکان و کهن سالان بودند، شهید و مجروح گردیده اند، همچنان منازل مسکونی زیادی به طور کامل منهدم وخسارات هنگفت مالی نیز برای افراد ملکی وارد شده است.

این حملات ناجوانمردانه و بزدلانه نظامیان پاکستان، واکنش های گسترده ای را درسطح ملی و بین المللی به همراه داشته و همه به یک صدا این حملات را نقض آشکارحقوق بشر و مغایر ارزشهای انسانی و اسلامی خوانده و آن را شدیداً محکوم نموده و هشدار داده اند که ادامه چنین حملاتی نه تنها، اسلام آباد را به اهداف شومش نخواهد رساند، بلکه اوضاع را به زیان این کشور، بدتر خواهد ساخت.

همچنان مردم افغانستان از سازمان ملل متحد خواستند تا این قضیه را از مجرای قانونی به بررسی بگیرد.

مولوی ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی نیز در واکنش به این حملات، این اقدام پاکستان را بزدلانه، تجاوزگرانه و در عین حال یک جنایت وحشیانه توصیف کرده و آنرا شدیداً محکوم نموده است.

حملات یکشنبه شب بر مناطق مسکونی در ولایات پکتیا، پکتیکا و کنر که تلفات بی سابقه افراد ملکی را در پی دارد، نشان می دهد که رژیم نظامی پاکستان به هیچ اصول انسانی، حسن همجواری، ارزش های دینی و اخلاقی پابند نبوده وبا این حملات وحشیانه و غیر انسانی، می خواهند که بادارانش را راضی و خداوندعزوجل را ناراض سازند.

زیرا درهیچ قاموسی، حمله بر افراد ملکی، جا ندارد و در نزد جهانیان به خصوص مسلمانان جهان این جنایات خلاف ارزش‌های انسانی و اسلامی است.

بنابرین به صراحت گفته می توانیم که اسلام آباد با این عملکرد های غیر اسلامی و انسانی خود، در نزد مردم افغانستان و مسلمانان جهان منفور و منزوی است، اعتبار و پرستیژ سیاسی و اخلاقی خود را نیز از دست داده است.

روی این اساس مردم افغانستان باید آگاه وبیدار باشند و فریب ترفند های دستگاه استخباراتی این کشور را نخورند، زیرا ثبات، ترقی، تعالی، توسعه و رفاه اجتماعی، همچنان استحکام پایه های وحدت ملی و رشد اقتصادی افغانستان، برای دشمنان این سرزمین، قابل پذیرش نیست و از افغانستان ازاد، مستقل، خودکفا و... هراس دارند.

ایا نړیوال ړانده دي؟

مطیع الله مجاهد

دا کوچنۍ ماشومه، چې لا یې د ژوند د خوښیو پیل هم نه دی کړی، ستاسو د بې‌رحمو بمباریو قرباني شوه.

هره هغه پېښه چې پکې بې‌ګناه ماشومان، ښځې او ملکي وګړي په شهادت رسېږي، د سختې خواشینۍ خبره ده، خو ایا دغه یوازې خواشیني به تر څه وخته وي؟

اوس له صهیونیستي رژیم څخه پوښتنه دا ده: ایا دا معصومه ماشومه هم ستاسو دښمنه وه؟ ایا د دې کوچنیو لاسونو کوم جرم کړی و؟ ایا د دې ګلالیو ماشومانو په سترګو کې کومه جګړه پټه وه؟ که نه، نو ولې د درد او وېرې ژوند ور په برخه شو؟

چېرې دي ګونګ او ړانده بشرپالان؟

چېرې دي د بشر د حقوقو داعیان؟

چېرې دي هغه خلک چې موږ ته د بشر د حقوقو درس راکوي؟

ایا دا لومړی ځل دی؟

که لومړی ځل نه وي، نو بیا تاسو ولې ګونګ او ړانده یاست؟

که یو اجیر او غلام حکومت د خپل امنیت په ساتنه کې ستونزې لري، د نړیوالو اصولو او انساني ارزښتونو له مخې باید د خپلو ستونزو حل په خپله ولټوي، نه دا چې د بې‌ګناه ماشومانو او ملکي وګړو ژوند له خطر سره مخ کړي.

د ملکي وګړو په نښه کول، اې اجیره پوځه، نه ستاسو لپاره امنیت راولي او نه هم ستاسو پر وړاندې جګړه ارامولي.

پاکستاني غلام رژیم ته دا پوښتنه مطرح کېږي: که ستاسو هدف امنیت وي، نو د ماشومانو په شهادت رسول یا ټپي کول څنګه توجیه کوئ؟

که ځان د قانون او نړیوالو اصولو درناوی کوونکی بولئ، نو د ملکي تلفاتو مسئولیت څوک پر غاړه اخلي؟ که د سولې خبرې کوئ، نو ولې د جګړې له ټولو درونډ بار پر هغو کسانو پرېوځي چې هېڅ دفاع نه شي کولی؟

تاریخ ښيي چې ځواک د ولسونو زړونه نه شي ګټلای؛ عدالت، درناوی او انساني چلند هغه څه دي چې تلپاتې اغېزې لري. د بې‌ګناه ماشومانو او ملکي وګړو وینه هېڅکله د بریا نښه نه ده، بلکې د وجدان لپاره یوه درنه پوښتنه ده او تاسو که دومره اتلان یاست، جګړه په اسلام‌اباد او کراچۍ کې کنټرول کړئ. موږ هیله لرو چې ګونګ او ړانده نړیوال د پېښو په اړه رښې او بې‌طرفه څېړنې وکړي او مسئول کسان د قانون له مخې ځواب‌ویونکي وګرځول شي، ځکه د هر ماشوم ژوند ارزښت لري او هېڅ ماشوم باید د جګړو قرباني نه شي.

په کوم جرم دې ووژل؟

محمد الیاس فاتح

په نړۍ کې له ټولو درونډ جنایت هغه دی چې د جګړې اور د بې ګناه انسانانو پر کورونو ولګېږي. کله چې د شپې چوپتیا د جنګي الوتکو په غږ، د بمونو په درزا او د ماشومانو په کوکو(چیغو) بدله شي، نو دا پوښتنه د هر باوجدانه انسان په ذهن کې راپورته شي چې: « په کوم جرم دې ووژل؟! »

ورمه شپه؛ د پکتیا، پکتیکا او کونړ پر ولسي کورونو د پاکستان د پوځي رژیم د هوایي بریدونو خبر یو ځل بیا د افغان ولس په زړونو کې دردونه راژوندي کړل، د پکتیا، پکتیکا او کونړ ولسونه یې د وېر پر تغر کېنول او د دې تریخ واقعیت قربانیان ټول ملکي وګړي دي.

حقیقت دادی چې کله ماشومان، ښځې، سپین ږیري، ناروغان او بې وسلې او بې وسیلې خلک د جګړې او تجاوز هدف وګرځي، نو دا یوازې د یو ملت غم نه وي، بلکې د درست امت د ایمان او د ګرد انسانیت د وجدان امتحان وي.

په داسې حال کې چې په همدې ورځو کې د نړۍ؛ ملګرو ملتونو او سیمې او د شانګهای د همکارۍ د سترو سازمانونو غونډې وشوې او په بحث کې یې د افغانستان وضعیت هم شامل و، خو دا چې دنیاوال د خپلو هوسونو او ناروا سیاستونو او د سترو امپراتوریو د غوښتنو تابع دي؛ چېرې په دې فکر او عمل کوي: هغه ولس چې له لسیزو راهیسې یې د یرغلیزو او خپلمنځي جګړو، هجرتونو او بې‌ځایه کېدلو، فقر او وېر په منځ کې د ژوند سختې مرحلې تېرې کړې، نور د بمونو، توغندیو او زور سیاست نه، بلکې د امن، عدالت او انساني کرامت او هر اړخیزو همکاریو مستحق دی او پر دې بحث نه کوي، د اجرتي رژیم له خوا چې د اسلامیت او انسانیت ضد کومې کړنې، جنایات او مظالم ترسره کېږي، د هېڅ سیاسي اختلاف او هېڅ امنیتي ادعا له مخې د بې ګناه انسانانو د وینې تویېدلو توجیه نه شي کېدای.

پاکستاني پوځي پالیسۍ او تور سیاست له کلونو راهیسې د سیمې د بې‌ثباتۍ او فساد له مهمو عواملو څخه بلل شوي دي. په اصطلاح د ترهګرۍ پر ضد جګړې، ستراتېژیکې معاملې او د نړیوالو قدرتونو له سیاستونو سره تړلې پرېکړې؛ دا ټولې د پاکستان د اجرتي پوځ د خېټې ډکولو او واک غځولو مهمې وسیلې دي، چې درانه زیانونه او ناوړه تاثیرات یې پر پښتنو، بلوڅانو او سندیانو سربېره افغانانو، سیمې او نړۍ ته هم رسېدلي دي.

د دې خونکار سیاست لومړني قرباني، د پاکستان دننه د بشري حقونو د فعالانو، سیاسي مخالفینو او قومي مشرانو پر نیولو او ځپلو سربېره د مظلومو ولسونو وژنې، ځپنې او د باروتو په لمبو کې د سوځونې بېلابېل دردناک احوال او واقعیتونه دي، چې د انسانیت پر مخ تور داغونه ګرځېدلي دي.

داچې پاکستاني رژیم پر خپلو خلکو زیات مظالم ترسره کړل، زرګونه شهیدان، زخمیان، زندانیان او ورک شوي کسان او کورونه، بازارونه او ښارونه وېجاړول؛ دا په خپله د دوی په لاس کرل شوې انقلابي سکروټې او اور دی چې اوس یې لمبې د دوی پر وجودونو بلېږي، خو د دې ټولو ناکامیو او کورنیو ستونزو په غبرګون کې د افغانستان پر بې دفاع ولس بریدونه کوي. د جګړې د قانون او انساني وجدان دواړو له مخې پر ملکي وګړو برید ستر جنایت او نه بښونکې ګناه ده. که یو ماشوم، یوه مور یا یو ناروغ وژل کېږي، نو دا د ټول انسانیت د ضمیر ټپي کېدل دي.

الله (ج) فرمايي: « هر چا چې یو بې ګناه انسان ووژلو، نه د قصاص په بدل کې او نه د ځمکې د فساد له امله، نو داسې ده لکه ټول انسانان یې چې وژلي وي.» [المائدة: ۳۲]

نن چې د پاکستان اسرائیلي رژیم د خپل شرمېدلي قرارداد او ځناوریز عادت له مخې د بې وسلې او بې ګناه خلکو وینې بهوي، که لږ وي او که ډېر د ټول انسانیت قتل عام کوي، د افغانستان د زرو علماوو د فتوا له مخې هم او د قرانکریم، نبوي احادیثو او د فقهاوو د کتابونو له مخې هم له دې پوځي رژیم سره جګړه او د دوی وژل له هرې لارې او لوري ؛ مقدس جهاد او اهمه فریضه ده.

او دا چې د دې غچ به د الله په نصرت د اسلامي امارت د دفاع وزارت خامخا اخلي، خو ټول افغانان او د نړۍ مسلمانان او د انسانیت دعوی لرونکي هم د دې مسئولیت په غاړه لري، چې له پوځي رژیم څخه یې انتقام واخلي او محاسبه ورسره وکړي او دغه راز نن د شهیدانو وینې، د یتیمانو اوښکې او د میندو سلګۍ د نړۍ د ټولو اوسېدونکو له وجدان څخه پوښتنه کوي:

په کوم جرم ووژل شول؟

ګناه یې څه وه؟

ایا د دوی د ژوند ارزښت د نورو انسانانو له ژوند څخه کم دی؟

ایا د نړۍ د تورو سیاستونو قربانیان همدغه مظلومان دي؟

ایا د دویم اسرائیلي پوځي رژیم لاسونه دې خلاص وي؟ او د دویمې غزې مصداق او واقعیت همدغه خاوره شوه؟

نه، نه! دا افغانستان دی، دا مجاهد ملت دی، دلته پرنګ، شوروي او امریکا پر ګونډو شوي دي، دا بې دینه غلامګی به یې څه وي او زور به یې څه وي، خو د دوی بادار باید پوه شي، چې د جګړو، زور او تجاوز د سیاستونو لمبې چې څومره دوام کوي، هومره به د دوی کورونو ته هم رسېږي.

ظلم، ځواک، وسلې او بمونه کېدای شي لنډمهاله وېره خپره کړي، خو د عدالت غوښتنه او د مظلوم آه او د انتقام فکرونه د زمانې په حافظه کې ژوندي پاتې کېږي. هر هغه ځواک چې د بې ګناه انسان وینه تویوي، یوه ورځ د تاریخ، قانون ، وجدان او بالاخره د جهادي ګوزارونو محکمې ته درېږي.

او د قرآنکریم دا پوښتنه چې د قیامت په ورځ د هر ظالم پر وړاندې کېږي، ښایي دلته هم ترې وشي چې:

ژباړه: «په کومه ګناه ووژل شوه؟»[سورة التکویر: ۹]

دا آیت یوازې د یوې نجلۍ پوښتنه نه ده، بلکې د هر هغه بې ګناه انسان غږ دی چې د ظلم قرباني کېږي.

د افغانستان خلک جګړو ځپلي، آه او ښېراوې یې قبلېږي، وینه یې ارزښت لري او د هرې مور اوښکې بې ساری قېمت لري، اوس الحمدلله یو ځواکمن نظام، قوي پوځ او په پرمختللو وسایلو سمبال لښکر لري، د افغان ملت او خاورې ساتنه کې یې کامیاب امتحان ورکړی او دا غچ به هم نه پاتې کېږي. ان شاءالله.

البته که نړۍ رښتیا د بشري حقونو، عدالت او انساني کرامت ادعا لري، نو باید د هر هغه تجاوز او برید پر وړاندې یو شان دریځ غوره کړي چې ملکي وګړي پکې قرباني کېږي. او دا درک کړي چې نن بیا د وېر له دې کنډوالو څخه هماغه یوه پوښتنه راپورته کېږي: (په کوم جرم دې ووژل؟)

او د دې پوښتنې ځواب به نه یوازې تاریخ، بلکې د هر انسان وجدان هم غواړي او د افغان د قهر او غچ سبب به هم ګرځي. (وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ)

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

موضوع: موازی ۶۳۰۰ متر مربع زمین چهار دیواری واقع گمرک سابقه

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی ۶۳۰۰ متر مربع زمین چهار دیواری واقع گمرک سابقه، قریه بت خاک مربوط ناحیه ۱۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۴۸۸۲۵)افغانی به اعلان مزایده می سپارد .افغانی مدت (۵) سال.

کوردینات (جی پی اس) نمبر: ۶۹٫۳۷۰۸۰۲. ۳۴٫۴۹۸۹۰۲.

اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/۴/۸ الی ۱۴۰۵/۴/۱۷ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱۴ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس

(۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷)، مجلس داوطلبی ۱۸ /۱۴۰۵/۴ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

***

اطلاعیه‌عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از احکام قانون عقود و طرزالعمل تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک(۴۵) قلم فلترباب و روغنیات مورد ضرورت وسایط نقلیه مرکز وزارت امور شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱۴۰۵، تحت شماره تشخصیه MOMDA/1405/NCB/G-1247 را به شرکت خدمات لوژستیکی ویدا ویرا دارنده جواز نمبر(۶۸۶۹۹) محل اصلی قلعه موسی ناحیه ۱۰، مرکز کابل، کابل به قیمت مجموعی مبلغ(۴۱۶٬۸۳۰) چهار صد و شانزده هزار و هشتصد و سی افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین واقع {سرک عمومی میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط} وفق احکام طرزالعمل تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از اصول تدارکاتی به اطلاع عموم رسانیده می شود:

به اساس فیصله شماره ۱۰۷۹ مؤرخ ۱۴۴۸/۰۱/۰۸ کمیسیون محترم تدارکات ملی، ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور ا.ا.ا به نمایندگی از شاروالی کابل در نظر دارد قرارداد پروژه: امور ساختمان لات چهارم سرک کوتل خیرخانه مینه از نفت و گاز الی سرحد ناحیه تحت شماره داوطلبی NPD/KM/1405/NCB/W-701، را به شرکت های مشترک ساختمانی و سرکسازی آریوب سپین غر و ساختمانی و خدمات لوژستیکی آریوب دوبی دارای نمبر جواز فعالیت D-26728 و D-29654 و آدرس وفادار پلازا، سرک 1، کارته نو، ناحیه 8، مرکز کابل، کابل و وفادار پلازا، سرک ۲، کارته نو، ناحیه ۸، مرکز کابل، کابل به قیمت مجموعی ۹۸۱،۲۱۷،۲۲۹ افغانی (نه صدو هشتادو یک میلیون و دو صدو هفده هزار و دو صدو بیست و نه افغانی) اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام اصول تدارکاتی به ریاست تدارکات ملی ارائه نمایند.

آدرس: آمریت تسهیلات تدارکاتی، معاونیت تخنیکی، ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور، پشتونستان وات، کابل - افغانستان.

یادداشت: این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم نیاز محمد کوهستانی فرزند فیض محمد ولدیت شمس الدین دارنده تذکره نمبر (۰۴۹۶۸ - ۰۷۰۰ -۱۳۹۹) مالک امتیاز دواخانه نیاز محمد کوهستانی واقع ناحیه شانزدهم ولایت کابل عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹۲

***

اطلاعیه لیلام

وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل در نظر دارد برای بار چهارم به تعداد ۲ پایه جنراتور ۷۰ کیلووات و ۲۵ کیلووات داغمه خویش را به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۵ از طریق مزایده به لیلام بسپارد. شرکت ها، موسسات و اشخاصیکه علاقمند خرید آن باشند می توانند بعد از نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۵ درخواست های خویش را به آمریت محاسبه اجناس ریاست مالی و اداری این وزارت واقع مکروریان سوم ، سرک عمومی میدان هوایی بین المللی کابل جوار ستره محکمه بسپارند، در تاریخ مذکور تشریف آورده و در مزایده اشتراک نمایند.

قابل تذکر است که ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی در همان روز نقدا اخذ می گردد.۳۰۷۷

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی نمبر ۲۴۸۸۷ به اسم شیر احمد فرزند عبدالوهاب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۳۰۷۵

اطلاعیه لیلام

قرار است وزارت امور خارجه به تعداد ۲۱۸۴ دو هزار و یک صدو هشتاد و چهار شماره اموال داغمه و مازاد مختلف النوع خویش را به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۲۲ با حضور داشت هیئت موظف به پروسه داوطلبی گذاشته و به فروش رساند.

اسم پروژه	تاریخ داوطلبی	زمان داوطلبی	مکان	تضمین پیش پرداخت
لیلام و واگذاری اجناس داغمه و مازاد	۱۴۰۵/۴/۲۲	۱۰:۰۰ قبل از ظهر	وزارت امور خاجه- پارکینگ وسایط شماره ارتباط : ۰۲۰۲۱۰۳۶۶۷	۱۵٪ فیصد قبل از شروع داوطلبی اخذ می گردد

د ترهګر پوځي رژيم تکراري...

چې له تعليم څخه لرې پاتې دي، سخت او شاقه کارونه پرې کېږي، حقوق يې نه ورکول کېږي او ...؟

ستاسې له دې چوپتيا څخه معلومېږي چې له افغان ولس سره د مور او ميرې چلند کوئ، لکه څنګه چې اسرائيل پر فلسطينيانو بمبارونه کوي او پر خلاف يې يو حقوقي بنسټ او د بشري حقونو والا هم غږ نه پورته کوي. همداسې دوهم اسرائيل (پاکستان) هم چې پر افغان بې ګناه ولس بريدونه کوي، نړيوال او د بشري حقوقو والا چپ دي.

په هر صورت؛ افغان ولس بايد د دغو دردناکو پېښو پر وړاندې خپل قوت، يووالی، زغم او حوصلې لوړې وساتي. د الله تعالی د نصرت او عدالت وعده حقه ده او تاريخ هم شاهد دی چې ظالمان او متجاوزين تل د خپلو شومو اعمالو له بدو پايلو سره مخ شوي دي. زموږ د شهيدانو وينې به هېڅکله بې ځوابه پاتې نه شي او د هېواد د خپلواکۍ، عزت او اسلامي ارزښتونو د ساتنې مبارزه به د ملت په کلک عزم او استقامت سره دوام ولري. الله تعالی دې زموږ شهيدانو ته فردوس جنت، ټپيانو ته بشپړه روغتيا او افغان ولس ته د دې بزدله دښمن پر وړاندې لا ډېر قوت، يووالی او ثبات ور په برخه کړي. دردېدلو هېوادوالو ته داډ ورکوو، چې اسلامي ځواکونه به ستاسې بدله ضرور اخلي، د هېڅ افغان وينه به نه ضايع کېږي او له تورمخي دښمن څخه به د هر درد او زخم پوښتنه په څو چنده کوي. موږ افغانان چې سل کاله وروسته هم بدل واخلو، نو له ځان سره وايو چې عجله مو وکړه. دښمن ته وايو چې (فنتظرو انهم منتظرون).

پنجشير او هرات کې د پاکستاني رژيم د وحشيانه...

بريدونه د اسلامي شريعت، انساني اصولو او نړيوالو قوانينو خلاف وبلل او د هېواد پر دفاع يې ټينګار وکړ. دوی له نړيوالې ټولنې او ګاونډيو هېوادونو غوښتي، چې د ورته کړنو د تکرار مخنيوی دې وکړي. د يو بل خبر له مخې: ګڼ شمېر هرات مېشتي ولسونه هم د پاکستاني رژيم د پوځ پر ضد واټونو ته را ووتل. دوی د پاکستان د پوځي رژيم دا ډول اقدامات د بشري اصولو او نړيوالو قوانينو خلاف عمل وباله. هرات مېشتو د افغان ملکي وګړو وژنه وغندله او له اسلامي امارت څخه يې وغوښتل، چې پر وړاندې يې پرېکنده اقدام وکړي. دوی ويلي، چې د افغانانو پر کورونو بمباري او د ملکي وګړو په نښه کېدل يو نه منونکی عمل دی او په هېڅ ډول د توجيه وړ نه دی. د هرات ښاريانو همدارنګه له نړيوالو بنسټونو او د بشري حقونو له ادارو غوښتي، چې د افغان خاورې د نقض په اړه پټه خوله پاتې نه شي او د مخنيوي لپاره دې لازمې هڅې وکړي. هرات مېشتي وروسته له هغې د افغان ملکي وګړو د ملاتړ په موخه راټول شول، چې پاکستاني پوځي رژيم وړمه شپه بيا په قصدي ډول کونړ، پکتيا او پکتيکا ولايتونو کې شاوخوا ۲۰۰ ملکي وګړي په نښه کړي، چې ډېره برخه يې ښځې او ماشومان دي. دا په داسې حال کې ده، چې د پاکستان د پوځي رژيم بريدونو ټول هېواد کې سخت غبرګونونه راپارولي او هغه يې غير انساني بللي دي.

کابل ښار کې پنځه لوی سرپټي بازارونه...

پنځه لوی سرپټي بازارونه جوړ شي.» نوموړي له لاس پلورونکو او نورو پلورونکو وغوښتل، چې له بې‌نظمۍ ډډه وکړي او په هغو ځايونو کې فعاليت وکړي چې ښاروالۍ يې ورته ځانګړي کوي.» ښاغلي بارکزي زياته کړه: «د کابل ښار پاکوالی، سرسبزي، د پليو لارو او سړکونو ساتنه يوازې د ښاروالۍ دنده نه ده، بلکې د ټولو ښاريانو ګډ مسئوليت دی.» نوموړي ټينګار وکړ: هر څوک چې په کابل ښار کې ژوند او يا فعاليت کوي، که دکاندار وي، ډاکټر وي، د تنظيف کارکوونکی وي او يا هم د نيالګيو کېنوونکی، بايد ښاري اصول مراعات او له ښاروالۍ سره همکاري وکړي. د کابل ښار يو تن اوسېدونکی وايي: د کابل ښار د بازارونو بې‌نظمي له کلونو راهيسې د خلکو لپاره يوه جدي ستونزه ده، ځکه په ډېرو سيمو کې کراچۍ او غيرمنظم لاس پلورونکي د سړکونو او پليو لارو د بندېدو لامل شوي، چې هم يې ټرافيکي ستونزې زياتې کړي او هم يې د خلکو تګ راتګ ستونزمن کړی دی. د نوموړي په وينا: «که رښتيا هم د کابل ښاروالۍ له لوري په پنځو زونونو کې عصري او سرپټي بازارونه جوړ شي او ټول کاروباريان په منظم ډول هلته ځای پر ځای شي، نو دا به د کابل ښار د نظم او ښکلا لپاره يو مهم ګام وي.» نوموړې زياتوي: «ښاروالۍ بايد د بازارونو تر څنګ د سوداګرو لپاره لازمې آسانتياوې هم برابرې کړي، څو هغوی له ستونزو پرته خپل کاروبار ترسره کړي.» نوموړې ټينګار کوي، چې ښاريان هم بايد له ښاروالۍ سره همکاري وکړي، ځکه يوازې د حکومت په هڅو ښار نه جوړېږي، بلکې د خلکو همکاري هم پکې اساسي رول لري. د کابل اوسېدونکی: زه باور لرم چې د کابل ښار د منظمېدو لپاره د سرپټو بازارونو جوړول يو مثبت او ګټور اقدام دی. د نوموړي په وينا، کله چې لاس پلورونکي او کراچي‌وانان مشخصو ځايونو ته انتقال شي، نه يوازې د ښار سړکونه او د تګ را تګ لارې به خلاصې شي، بلکې د خلکو او سوداګرو لپاره به هم ښه چاپېريال رامنځته شي، خو دا پروسه بايد په تدريجي او عادلانه ډول عملي شي، ځکه ډېر دستفروشان د همدې کاروبار له لارې د خپلې کورنۍ اړتياوې پوره کوي. که ښاروالۍ د دوی اقتصادي وضعيت ته هم پام وکړي او مناسب ځايونه، امنيت او نورې آسانتياوې ورته برابرې کړي، نو خلک به هم له دې پروګرام څخه ملاتړ وکړي. زه هيله لرم چې د دې پلان په عملي کېدو سره به کابل ښار يو پاک، منظم او د ژوند لپاره مناسب ښار شي. **حضرت بلال صافي**

لوګر؛ د عامو وګړو په مالي ملاتړ يوه...

په مالي ملاتړ جوړېږي. د نوموړي په وينا، په دې ودانۍ کې به ۶ درسي ټولګي، يوه اداري خونه، يو کتابتون، يو پخلنځی او د تشنابونو څلور غرفې جوړې شي او ټاکل شوې د جوړېدو چارې به يې په راتلونکو درېيو مياشتو کې بشپړې او ګټې اخيستنې ته به وسپارل شي. نوموړي زياته کړې، چې د سيمې يو شمېر اوسېدونکو د يادې مدرسې لپاره خپله يونيم جريب شخصي ځمکه هم د پوهنې رياست ته وقف کړې ده. د يادونې وړ ده، چې د انوار العلوم ديني مدرسه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معينيت تر چتر لاندې فعاليت کوي.

عادل راجا پر افغان خاوره ...

په نښه شوي، چې د ژغورنې او مرستې لپاره سيمې ته ورغلي وو. عادل راجا د پاکستاني رژيم د پوځ دغه بريدونه د صهيونيستي رژيم له پوځي تګلارې سره پرتله کړي او پوښتنه يې کړې، چې «د نتانياهو او عاصم منير ترمنځ څه توپير شته؟» ده همدا راز د پاکستان پر ولس غږ کړی، چې د دغو بريدونو پر وړاندې چوپ پاتې نه شي. «د پاکستان خلک به تر کومې ويده وي؟»

تأکید بر بازتاب منصفانه...

سازمان ملل متحد خواسته تا در زمینه فراهم‌سازی معیشت بدیل برای دهقانان، به‌جای کشت کوکنار و سایر کشت‌های ممنوعه، همکاری عملی و توجه بیشتری داشته باشد.

د ماهيپر برېښنا بند د لوړې...

چې د توربين د توليدي ظرفيت لوړول يوه مهمه تخنيکي موضوع ده او په دې برخه کې به د ټولو تخنيکي اړخونو له هر اړخيزې ارزونې، دقيقې سنجونې او د اړوندو تخنيکي مسئولينو له تأييد او موافقې وروسته لازم تصميم ونيول شي.

احضار شارژدافیر سفارت...

متوسل شده است. وزارت امور خارجه تأکید کرده که چنین اقداماتی نه‌تنها راه‌حل مشکلات موجود نیست؛ بلکه به روابط همسایگی، اعتماد متقابل میان دو کشور و ثبات منطقه نیز آسیب جدی وارد می‌کند.

په کابل کې د صنعت او...

د «صنعتي کېدو» وړتيا او امکانات لري او کولای شي پر يو صنعتي هېواد بدل شي. ټاکل شوې ده، چې د صنعت او معدن اوونۍ پنځم کورنی او نړيوال نندارتون د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د چنګاښ په ۱۰مه پرانيستل شي او د همدې مياشتې تر ۱۶مې پورې به دوام وکړي.

د احمقانه هڅو پر ځای له...

کې د افغانستان دننه د دې ډلې اړوند مرکزونه په نښه کړي دي. دې ډلې ويلي، دا ډول ادعاوې د افغانستان پر ضد د بريدونو د توجيه کولو او د پاکستان دننه د پرله پسې امنيتي ناکاميو د پټولو لپاره مطرح کېږي. يادې ډلې په يوه اعلاميه کې ټينګار کړی، چې د دوی ټول پوځي فعاليتونه، تشکيلات او جنګيالي د پاکستان په خاوره کې مېشت دي او په کلکه يې رد کړې، چې ګواکې په افغانستان کې کوم مرکزونه، اډې يا عملياتي قرارګاوې لري، يا خپل عمليات له هغه ځايه ترسره کوي. په اعلاميه کې د پاکستاني اجير پوځ مشرتابه تورن شوی، چې هڅه کوي د هېواد د کورني امنيتي خرابوالي پړه پر بهرنيو لورو واچوي. دغه ډلې ادعا کړې، چې د دوی تنظيمي او پوځي حضور د پاکستان په څو مهمو ښارونو، لکه کراچۍ، لاهور، اسلام‌اباد، کويټه او پېښور کې شتون لري.

جماعة الأحرار همدارنګه د پاکستان د وروستيو هوايي بريدونو له امله په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې غندنه کړې او ويلي يې دي، چې د ملکي سيمو په نښه کول د نړيوالو قوانينو خلاف عمل دی. په اعلاميه کې د پاکستاني اجير پوځ مشرتابه ننګول شوی، چې که ورسره جګړه کول غواړي، نو د پاکستان په ښارونو او د جګړې په ډګرونو کې دې ورسره مخامخ شي، نه دا چې د افغانستان دننه ملکي وګړي او ماشومان په نښه کړي.

د اعلاميې په پای کې، جماعة الأحرار د پاکستان حکومت ته مستقيم ګواښ کړی او ويلي يې دي، که د افغانستان دننه د ملکي وګړو پر ضد پوځي عمليات او هوايي بريدونه دوام ومومي، نو دوی به لا ډېر سخت او اغېزناک بريدونه ترسره کړي.

تهران له کابل سره په درېيو...

درېيو کلونو کې د ۱۰ ميلیارډو ډالرو سوداګرۍ هدف ته ورسېږي. دا څرګندونې د تهران او کابل ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پياوړتيا نښه بلل کېږي. ايران افغانستان ته د سون او ساختماني مواد، خوراکي توکي او صنعتي محصولات صادروي او افغانستان د منځنۍ اسيا بازارونو ته د ايراني محصولاتو د لېږد يوه مهمه ځمکنۍ ټرانزيټي لاره ګڼل کېږي.

د پاکستان د پوځي رژيم...

شهيدان او ۱۵۸ نور ټپيان شول. ښاغلي فطرت ويلي: د پکتيکا ولايت د ګيان ولسوالۍ د ولوست کلي پر يوه ملکي کور هم بمباري شوې، چې په پايله کې يې شپږ تنه، چې ډېر يې ښځې او ماشومان وو، شهيدان شوي دي.

د ده په خبره، د کونړ ولايت د منورې ولسوالۍ د برولو په کلي کې هم د يوه ملکي وګړي کور بمبار شوی، چې ځاني تلفات نه لري، خو کور يې په بشپړ ډول ويجاړ شوی او مالي زيان ورته اوښتی دی. د اسلامي امارت مرستيال وياند زياته کړې، چې د دغو بريدونو له امله درې کورونه هم په بشپړ ډول ويجاړ شوي دي.

د کور او ښار جوړولو وزارت د موټرو ...

اغېزمن ډول وڅارل شي. دغه سيستم به، د غير ضروري او شخصي تګ راتګ مخه ونيسي، د تېلو د مصرف د کنټرول او سپما زمينه به برابره کړي، د موټرو د خونديتوب کچه به لوړه کړي او د غلا يا غيرقانوني استفادې په صورت کې به د وسايطو د چټک موندلو او تعقيب اسانتيا رامنځته کړي.

همدارنګه، دا سيستم به د وسايطو د مديريت، راپور ورکولو او څارنې بهير لا اغېزمن او شفاف کړي. د کور او ښار جوړولو وزارت مالي او اداري معين مولوي محمد رباني ناصح، د دې قرارداد لاسليک د عامه شتمنيو د خوندي ساتنې، د دولتي امکاناتو د اغېزمنې استفادې، د لګښتونو د راکمولو او د حساب ورکولو د پياوړتيا په برخه کې يو مهم ګام وباله او ټينګار يې وکړ، چې د نوې ټکنالوژۍ کارول به د ادارې د عصري مديريت او ښې حکومتولۍ له موخو سره د رسېدو په برخه کې مهم رول ولوبوي.

ميدان وردګ؛ جغتو ولسوالۍ کې ۳۰ بستريز...

«حفظه الله» د لارښوونې له مخې په ټولو هغو لرې پرتو سيمو کې روغتيايي مرکزونه جوړېږي، چې اوسېدونکي يې روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی نه لري. نوموړي زياته کړه: د جغتو ولسوالۍ اوسېدونکي به د دې پروژې له بشپړېدو وروسته معياري روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ومومي. ورته مهال د ياد ولايت د عامې روغتيا رئيس حافظ سعيدالرحمن قادري ويلي، چې ياد ۳۰ بستريز روغتون به پر پنځه جريبه ځمکه د ۱۸ مياشتو په موده کې جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. د نوموړي په وينا، په دغه روغتون کې به د عمومي داخلې، جراحۍ، ماشومانو، نسايي او ولادي څانګو په ګډون بېلابېل روغتيايي خدمتونه وړاندې شي. د يادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم د ميدان وردګو ولايت په دايميرداد ولسوالۍ کې د ۶۳.۸ میلیونو افغانيو په ارزښت د ۳۰ بستريز عمومي روغتون د جوړېدو چارې پيل شوې وې.

برگزاری مشاعره میله گل زرد ...

فرهنگیان و اقشار مختلف جامعه برگزار می‌شود. وی افزود که برگزاری چنین برنامه‌های فرهنگی در راستای پاسداری از ارزش‌های بومی، تقویت هویت فرهنگی و انتقال سنت‌های نیک به نسل جوان، از اهمیت ویژه یی برخوردار است. در این برنامه، شیخ اسدالله سنان معاون والی کاپیسا، در رابطه به اهمیت و جایگاه شعر توضیحات داد و گفت که نقش شاعران در دوران انقلاب اسلامی به ویژه پس از استقرار امارت اسلامی برجسته بوده‌است. وی گفته‌است که شاعران همواره در کنار مجاهدین حضور داشتند و از آنان خواست که برای استحکام و بقای نظام اسلامی با شعر و قلم خود تلاش کنند. همچنان مولوی امان‌الله مستغفر رئیس ترنم و ترانه وزارت اطلاعات و فرهنگ گفت: هدف از برگزاری برنامه‌های فرهنگی و مشاعره‌ها در کشور، ادای مسئولیت مردم در قبال نظام اسلامی است. وی افزود که شعر از دو بخش یعنی قالب و محتوا تشکیل شده و از شاعران خواست تا در کنار توجه به قالب به محتوای اشعار خود نیز اهمیت دهند. در جریان این برنامه، شماری از شاعران و ترانه خوانان اشعار و سروده‌های‌شان را که به مناسبت این جشنواره آماده کرده بودند، خواندند و بر حفظ و ترویج فرهنگ بومی و زنده نگهداشتن جشن‌های سنتی تأکید کردند.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایټ:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹٦۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک خلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Tuesday 30 June 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1094

احضار شارژدافیر سفارت پاکستان از سوی وزارت امور خارجه کشور

وزارت امور خارجه اعلام کرده که شارژدافیر سفارت پاکستان در کابل را در پی حملات هوایی اخیر بر ساحات مسکونی در ولایت‌های پکتیکا، پکتیا و کنر و نقض حریم هوایی افغانستان احضار و اعتراض‌نامه شدید و قاطع خود را به وی ابلاغ کرده است. این وزارت با نشر خبرنامه‌ای گفته، عساکر رژیم نظامی پاکستان پریشب شماری از ساحات مسکونی در ولایت‌های پکتیکا، پکتیا و کنر را هدف حملات هوایی قرار داده که در نتیجه آن ۳۶ فرد ملکی، از جمله زنان و کودکان، شهید و ۱٦۳ تن دیگر زخمی شده‌اند.

وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان این حملات را نقض آشکار حاکمیت ملی افغانستان، اصول حقوق بین‌الملل و قوانین بشردوستانه دانسته و آن را به‌شدت محکوم کرده است.

در خبرنامه آمده: این نخستین بار نیست که رژیم نظامی پاکستان، بدون ارائه اسناد و شواهد معتبر، رویدادهای امنیتی و حملات رخ‌داده شده در شهرها و مناطق مختلف خود را به افغانستان نسبت می‌دهد. به گفته وزارت امورخارجه، اسلام‌آباد در سال‌های گذشته نیز برای پنهان‌سازی مشکلات امنیتی و سیاسی داخلی خود، بارها افغانستان را متهم کرده و در مواردی به استفاده از زور و اقدامات نظامی... ص۳

عادل راجا پر افغان خاوره د پاکستاني رژیم هوايي بریدونه د صهیونستي رژیم له تګلارې سره پرتله کړل

د پاکستان د پوځ پخواني افسر عادل راجا ویلي، چې د پاکستان د پوځ د مشر عاصم منیر په امر د افغانستان پر پکتیا، پکتیکا او کونړ ولایتونو بریدونو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ټول ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د نوموړي په وینا، په دغو بریدونو کې درې استوګنیز کورونه په بشپړ ډول ویجاړ شوي او په پکتیا کې له لومړني برید وروسته هغه کسان هم په دویم هوايي برید کې... ۳مخ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو مرستیال:

اسلامي امارت به د پاکستاني رژیم بریدونو ته په مناسب وخت کې ځواب ورکړي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو مرستیال مولوي حیات‌الله مهاجر فراهي وايي: اسلامي امارت به د پاکستان وروستیو هوايي بریدونو ته په مناسب وخت کې ځواب ورکړي. ښاغلي فراهي د پروان ولایت د خبریالانو د ظرفیت لوړونې په سیمینار کې زیاته کړې: د پاکستان پوځي رژیم د دې بریدونو له لارې هڅه کوي، چې د اسلامي امارت لاسته‌راوړنې او فعالیتونه تر پوښتنې لاندې راولي او د حکومت د چارو پر وړاندې ننګونې رامنځته کړي. نوموړي ټینګار کړی، چې اسلامي امارت به د دغو بریدونو پر وړاندې په مناسب وخت کې لازم ځواب ورکړي. دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې د پاکستان د ورمې شپې په هوايي بریدونو کې د پکتیا، پکتیکا او کونړ ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې لسګونو ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

تأکید بر بازتاب منصفانه دست‌آوردهای افغانستان در مبارزه با مواد مخدر

شیخ عبدالرحمن منیر، معین مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله، با پولک اوک سیری، رئیس دفتر اداره مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد (UNODC) در افغانستان، دیدار و گفتگو کرد. وزارت امور داخله در صفحه ایکس‌اش نوشته که در این دیدار، دو طرف درباره همکاری‌های مشترک و گزارش جهانی آینده این اداره در زمینه مواد مخدر گفتگو کرده‌اند. به گفته این وزارت، دو طرف همچنان بر بازتاب واقعی، دقیق و منصفانه دست‌آوردها و تلاش‌های افغانستان در مبارزه با مواد مخدر در گزارش‌های بین‌المللی تأکید کردند. آقای منیر گفت: «امیدواریم گزارش جهانی سازمان ملل متحد، دست‌آوردها و اقدامات امارت اسلامی در زمینه پیشگیری از مواد مخدر و مبارزه با این پدیده را به‌گونه‌ای واقعی، صادقانه و منصفانه بازتاب دهد.» وی همچنان از دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم... ص۳

پنجشېر او هرات کې د پاکستاني رژیم د وحشیانه بریدونو پر ضد پراخ ولسي لاریونونه وشول

پر افغان خاوره د پاکستان د پوځي رژیم د وروستیو بریدونو د غندلو او له خپلې خاورې او ولسونو سره د ملاتړ په موخه د پنجشېر د حصه اول ولسوالۍ او د بازارک ښارګوټي سلګونه اوسېدونکي واټونو ته راووتل. دوی په خپلو کې سره د خواخوږۍ او د پاکستان پر ضد شعارونه ورکول او د ملکي وګړو پر کورونو یې د پاکستان د پوځي رژیم بریدونه وغندل. لاریون کوونکو د پاکستان وحشیانه... ۳مخ

کابل ښار کې پنځه لوی سرپټي بازارونه جوړېږي

شریعت: د کابل ښار د بازارونو د نظم او تنظیم په موخه به د ښار په پنځو زونونو کې پنځه لوی سرپټي بازارونه جوړ شي، ترڅو لاس‌پلورونکي او نور کوچني کاروباریان په منظم ډول ځای پر ځای شي. مسئولین زیاتوي: د نویو سرپټو بازارونو په جوړېدو سره به د ښار په بېلابېلو سیمو کې د ټرافیکي ګڼې‌ګوڼې، بې‌نظمۍ او د پلیو لارو د بندېدو ستونزې راکمې او د ښاري نظم په ټینګښت کې به د پام وړ پرمختګ رامنځته شي. د کابل ښاروالۍ استازي او سلاکار، ښاغلي نعمت‌الله بارکزي، شریعت ورځپاڼې ته ویلي: ښاروالي د کابل ښار د بازارونو د نظم مسئولیت پر غاړه لري او د دکاندارانو، لاس پلورونکو او نورو سوداګرو لپاره مشخصې کړنلارې او اصول ټاکل شوي، چې ټول باید ورته ژمن پاتې شي. د نوموړي په وینا: «د کابل ښار په ختیځ، لوېدیځ، شمال، جنوب او مرکزي زونونو کې به... ۳مخ

لوګر؛ د عامو وګړو په مالي ملاتړ یوه دیني مدرسه جوړېږي

د لوګر ولایت د ازرې ولسوالۍ په منګل درې سیمه کې د انوارالعلوم په نامه یوې دیني مدرسې ته د نږدې دوو میلیونو افغانیو په لګښت د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې پیل شوې دي. د لوګر د پوهنې ریاست ویاند شاهپور عرب ویلي، چې دغه ودانۍ د ازرې ولسوالۍ د پوهنې آمریت په همغږۍ د سیمې د قومي مشرانو او عامو اوسېدونکو... ۳مخ

واشنګټن: له ایران سره د خبرو د دوام او د کړکېچ کمولو هوکړه شوې

یو امریکايي چارواکي ویلي: ایران او امریکا هوکړه کړې، چې پر یو بل به بریدونه ودروي او د تفاهمنامې په اړه به تخنیکي خبرو اترو ته دوام ورکړي. دغه امریکايي چارواکي د فرانسې خبري اژانس ته په یوه برېښنالیک کې لیکلي: «ټاکل شوې، چې د تفاهمنامې د ټولو برخو په اړه تخنیکي خبرې دوام ومومي. دواړه لوري به اوس‌مهال د کړکېچ له زیاتېدو ډډه وکړي او بېړۍ به په ازاد ډول تګ راتګ وکړي» ایراني چارواکو تر اوسه دغه راپور نه دی تأیید کړی. په وروستیو ورځو کې د هرمز تنګي د ادارې پر سر د اختلافاتو او د ایران او امریکا ترمنځ د څو ځلې بریدونو له امله اندېښنې زیاتې شوې وې، چې ښايي اوربند له منځه ولاړ شي.

تهران از آزادسازی ۶ میلیارد دالر دارایی‌های خود در قطر خبر داد

مسعود پزشکیان، رئیس‌جمهور ایران، اعلام کرده که شش میلیارد دالر از دارایی‌های مسدودشده‌ی این کشور در قطر آزاد خواهد شد. خبرگزاری فارس به نقل از پزشکیان گزارش داده که در چهارچوب تفاهم تازه میان تهران و واشنگتن، تحریم‌های نفتی و پتروشیمی ایران نیز لغو شده است. پزشکیان این تفاهم را «پیروزی بزرگی» برای مردم ایران توصیف کرده و گفته که دولتش بازسازی کشور و اجرای برنامه‌های حمایتی برای بهبود معیشت شهروندان را در اولویت قرار داده است. او افزوده که پس از آزادسازی شش میلیارد دالر، دولت ایران تلاش خواهد کرد دیگر دارایی‌های مسدودشده‌ی این کشور را نیز آزاد کند.

فرانسه؛ د الوتکې غورځېدو پېښه کې ۱۱ تنه مړه شوي

د فرانسې په تومبلېن ښار کې د پاراشوټ ښوونځي اړونده یوه کوچنۍ الوتکه لوېدلې، چې له امله یې ۱۱ تنه مړه شوي دي. د الجزیرې د راپور له‌مخې، په قربانیانو کې د الوتکې پیلوټ، پنځه زده‌کوونکي پاراشوټ‌وهونکي او پنځه روزونکي شامل دي. ویل کېږي، د پېښې پر مهال د وژل شویو کسانو د کورنیو ځینې غړي د هوايي ډګر په شاوخوا کې حاضر وو او د الوتکې د لوېدو صحنه یې له نږدې لیدلې ده. د الوتکې د لوېدو د لامل په اړه تر اوسه رسمي معلومات نه دي خپاره شوي او اړوندو چارواکو د پېښې د څرنګوالي د معلومولو لپاره پلټنې پیل کړې دي.

رژیم اسرائیل مدعی نابودی صدها میل سلاح و پرتابگر راکت حزب‌الله شد

رژیم اسرائیل، اعلام کرده که زیرساخت‌های زیرزمینی حزب‌الله را در یکی از روستاهای جنوب لبنان هدف قرار داده و آن را تخریب کرده است. در بیانیه‌ی مشترک دفتر نخست‌وزیر و وزارت دفاع اسرائیل آمده که ارتش این کشور یک تونل به درازای حدود ۲۰۰ متر را در روستای «مجدل‌زون» در جنوب لبنان هدف قرار داده است. خبرگزاری رویترز به نقل از دفتر نخست‌وزیر اسرائیل گزارش داده که امریکا پیش از انجام این حمله در جریان قرار گرفته است. مقام‌های اسرائیلی، مدعی شده که این تونل شامل صدها میل سلاح و پرتابگر راکت وابسته به حزب‌الله بوده است. در مقابل، حزب‌الله لبنان این حمله‌ها را «نقض آشکار» آتش‌بس توصیف و اعلام کرده که همچنان به این توافق پابند است، اما تحول‌ها را زیر نظر دارد و حق «دفاع از کشور و مردم» خود را محفوظ می‌داند. این حمله در حالی انجام‌شده که تنها دو روز پیش، لبنان و اسرائیل با میانجیگری امریکا به یک توافق امنیتی برای کاهش تنش‌ها در امتداد مرز دست یافته بودند.